مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۳/۱۲

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

(دوولسمه برخه)

**احاديث د اختلاف لويه منبع:**

احاديث ځکه د اختلاف ډېره لويه منبع ده چي د معتبرو کتابونو شمېر يې تر پنځه لسو تزيات دي او ټول له يوه بل سره مخالف يا لږترلږه مختلف احکام لري. دغه راز د احاديثو اکثر کتابونه د يوې مشخصي موضوع په باره کي له يوه بل سره مخالف اقوال لري او داسي حديث نسته چي هغه دي پر کوم ليکلي سند حواله ورکړي بلکه ټول احاديث د ځلورم او پنځم قول په اساس ترتيب سوي دي، چي تر ټولو لومړنی کتاب صحيح بخاري( وفات ۲۴۶ هـ ق) د حضرت رسول اکرم ص له وفات څخه شاوخوا ۲۲۰ کاله وروسته ليکل سوی دی. طبيعي خبره ده چي بايد په احاديثو کي توپير موجود وي او حتی د يوه کتاب په يوه فصل کي د يوې مشخصي موضوع په برخه کي متضاد قولونه راغلي وي. د امام بخاري تر زماني پوري، چي د احاديثو د راټولولو په ابتکار سره يې اسلام ته ډېر لوی او نه هېرېدونکی خدمت وکړ، د احاديثو شمېر تر ۶۰۰ زرو پوري رسېدلی او ځيني خو لا وايي چي يو ميليون احاديث خوله پرخوله کېدل. که امام بخاري، امام مسلم او نورو محدثينو احاديث را جمع کړي او تصفيه کړي نه وای ښايي اوس يې شمېر ميليونونو ته رسېدلی وای او د عقايدو اوسني اختلافات به تر سل چنده زيات وای.

البته محدثينو د يوې مشخصي موضوع په باره کي متضاد او د يوه بل مخالف احاديث راغوند کړي دي او زموږ د تکليف د اسانولو لپاره يې دا نه دي ويلي او يا يې نه سوای ويلای چي په دغو رانقل سويو احاديثو کي کوم يو د زيات اعتبار وړ دی. د مثال په ډول د صحيح بخاري د کتاب التقصير يا لمانځه د لنډولو په کتاب کي شپږم حديث رااخلو:

« اسحاق بن ابراهيم الحنظلي وايي چي ده ته ابی اسامه او ده د عبيدالله او هغه د نافع او هغه د عمر رض له قوله ويلي دي چي يوه ښځه بايد تر دريو ورځو زيات له محرم څخه پرته سفر ونه کړی بلکه بايد يا ورور يا پلاراو يا نيکه او يا بل محرم ورسره ملګری وي» بخاري، کتاب التقصير حديث ۷

د همدغه کتاب اتم حديث  د ابن عمر له قوله وايي چي يوه ښځه بايد تر دريو ورځو زيات له محرمه پرته سفر ونه کړي.

د همدغه کتاب ورپسي يا نهم حديث وايي « ابوهريره د حضرت رسول ص له قوله وايی چي يوه ښځه چي پر الله او د قيامت پر ورځي ايمان ولري تر يوې ورځي زيات له محرم څخه پرته سفر نه سي کولای»

اوس نو د بخاري، چي د سنيانو لپاره په صحاح سته کي تر ټولو معتبر کتاب دی، دوه حديثه يوې مسلماني ښځي ته درې ورځي له محرمه پرته د سفر کولو اجازه ورکوي. د همدغه کتاب ورپسي حديث مسلماني ښځي ته يوه ورځ له محرم پرته د سفر کولو اجازه ورکوي او زياته اجازه نه ورکوي. سړی به کوم حکم منی؟ درې واړه احاديث د عين موضوع په باره کي دي خو احکام يې له يوه بل سره توپير لري. او د افغانستان اسلامي امارت خو، چي ځانونه د نړۍ تر ټولو مسلمانانو زيات او ټينګ مسلمانان بولي، ښځي ته له محرم څخه پرته بيخي له کوره د وتلو اجازه نه ورکوي؛ او په دې برخه کي هيڅ ډول عذر نه مني. زه دوی ځکه نه ملامتوم چي دوی خو هم تر امام بخاري او امام مسلم څه په کمه نه دي! يو حکم خو بايد دوی هم وکړي!

د احاديثو کتابونو تقريباً ټول اجتماعي مسايل احتوا کړي دي او په اجتماع او اجتماعي ژوند پوري مربوط به داسي موضوع نه وي چي د احاديثو په کتابونو کي راغلي نه وي. موږ په دې مضمون کي پر لس هاوو زرو احاديثو باندی د بحث لپاره ځای نه لرو او دلته به يو ځل د طلاق موضوع، چي هم يې پخوا حياتي اهميت درلود او هم نن خلک، په تېره بيا ځوانه طبقه ورسره مخامخ ده، را واخلو.

طلاق عربي ريښه لري او د غوټي خلاصولو او پرېښودلو او آزادولو ته وايي خو په شرعي لحاظ د نکاح او د مېړه او مېرمني ترمنځ د اړيکو فسخ کولو ته طلاق ويل کيږي. په عمومي صورت داسي ټولنه، کلتور او مذهب نسته چي په هغه کي طلاق وجود ونه لري؛ خو دلته موږ يوازي په اسلام کي، او هغه هم په ډېر مختصر شکل، پر طلاق باندی بحث کوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

يو له هغو طريقو او رواجونو څخه چي په عربو کي، د جاهليت په وخت کي، موجود ول او په قرآن شريف کي يې احکام په هماغه شکل تکرا رسول هغه طلاق وو. د عربو عادت داسي وو چي دري طلاقه به يې بېل بېل ورکول او بيا به نو ښځه طلاقه سوه. او له عبدالله بن عباس څخه روايت دی چي لومړنی سړی چي له خپلي ښځي څخه په دريو طلاقو بېل سو هغه اسماعيل عليه السلام وو. وروسته له هغه نو د عربو دا رواج وو چي کله به يې خپله ښځه طلاقه کړه بيا به يې وروسته نکاح ورسره کوله او چي په دريو طلاقو به ورڅخه بېل سو بيا يې له هغې ښځي سره نکاح نه سواى کولاى. شهرستاني، توضيح الملل جلد دوم ص ۴۱۰
له محارب څخه روايت دی چي رسول اکرم ص وويل د الله په نزد، په ټولو حلالو امورو کي، طلاق د کراهت او نفرت وړ دی. سنن ابوداوود، کتاب الطلاق حديث ۳
البته کله چي مېړه او مېرمن ګوزاره سره ونه کړای سي بيا نو طلاق او سره بېلېدل يوازينی لاره ده. د قرآن شريف په سورة النساء او سورة الطلاق کي آيتونه موجود دي او د سورة البقرة له ۲۲۶ څخه تر ۲۳۲ پوري ۷ آيتونه د طلاق موضوع ته ورکړه سوي دي او له دي څخه معلوميږي چي د طلاق مسلې د حق متعال او د هغه د رسول ص په نزد ډېر زيات اهميت درلود. د سورة البقره ۲۲۶ آية وايي چي که مېړه او مېرمن څلور مياشتي سره بېل سي او بيا وغواړي چي بېرته سره يوځای سي نو کولای سی او حق متعال بخښونکی او مهربان دی. او په ورپسي آية کي وايي چي که دوی وروسته له هغه مودې څخه د طلاق فيصله وکړه بيا نو حق متعال اورېدونکی او دانا دی.
زه ګومان نه کوم چي په کورني ژوند کي تر طلاق مهمه مسله موجوده وي، ځکه چي د طلاق اخيستلو په صورت کي نه يوازي د مېړه او مېرمني ترمنځ، د دوو انسانانو په حيث، تر ابده نفرت ايجاديږي بلکه د دوو کورنيو ترمنځ اړيکی خرابيږي او که اولاد موجود وي د هغوی پر روحياتو او مناسباتو باندي ژوره او بده اغېزه کوي. خو د احاديثو کتابونو نه يوازي دا موضوع روښانه کړي نه ده بلکه نوره يي هم غامضه او پېچلي کړي ده. لازمه خو دا وه چي يا د دې مهمي او حياتي مسلې په باره کي هيڅ حديث اخيستل سوی نه وای او د قرآن شريف په آيتونو اکتفا سوې وای او که اخيستل کېدلای نو هغه احاديث غورځول سوي وای چي د محدثينو او د احاديثو د لومړيو غونډوونکو په نزد معتبر او موثق نه ښکارېدل؛ ځکه چي د دونه مهمي موضوع په باره کي، په عين کتاب او عين فصل کي، متضاد حکمونه له سړي څخه لاره ورکوي.
په صحيح مسلم کي د طلاق د کتاب ۱۹ حديث کي راغلي دي چي ابن عباس وايي د پيغمبرص او وروسته د ابوبکرصديق په زمانه کي او د عمرفاروق د خلافت په لومړيو دوو کلونو کي دري طلاقه پر يوه حساب وه. مګر عمر بن خطاب وويل چي خلک په دې موضوع کي له تلوار څخه کار اخلي چي بايد له احتياط او غور څخه کار واخلي نو ما پر دوی باندي دا تحميل کړه چي دري طلاقه بېرته نه راګرځي.
د همدغه کتاب ۲۰ حديث وايي: ابوصهبا له ابن عباس څخه پوښتنه وکړه چي ته په دې خبريې چي د الله د پيغمبرص او د ابوبکر صديق په زمانه کي او د عمر بن خطاب د خلافت په لومړيو دريوکلونو کي دری طلاقه پر يوه طلاق حساب وه؟ ابن عباس وويل هو.
د همدغه کتاب يوويشتم حديث وايي: ابوصهبا له ابن عباس څخه وغوښتل چي موږ ته په دې باره کي معلومات راکړه چي د حضرت پيغمبرص او د ابوبکر صديق په خلافت کي دري طلاقه پر يوه طلاق حساب نه وه؟ ده وويل همداسي وه او د عمربن خطاب په زمانه کي خلکو هر وخت خپلي ښځي په دريو طلاقو طلاقولي نو ده خلکو ته اجازه ورکړه چي په يوه ځل يا يوه ساه دري طلاقه پر  طلاق وشمېري.
د صحيح بخاري د طلاق د کتاب ۱۴ حديث وايی کله چي د ابن عمر څخه د هغه سړي په باره کي، چي خپله ښځه يې په دريو طلاقو طلاقه کړې وه، پوښتنه وسوه نو ده وويل چي ده ته پيغمبر ويلي دي چي که ښځي ته دوه طلاقه ورکړه سي نو هغه بېرته په نکاح کولای سي مګر که دري طلاقه ورکړي نو ترڅو چي بل مېړه يې کړی نه وي او هغه هم طلاقه کړي نه وي لومړي مېړه ته روا نه ده.
د صحيح مسلم له ذکر سويو احاديثو څخه په صراحت معلوميږي چي پيغمبرص په يوه ځل دری طلاقه پر يوه يا رجعي طلاق شمېرلي دي او سړي ته يې د خپلي ښځي د بېرته نکاح کولو اجازه ورکړې ده؛ مګر عمرفاروق له خپل صلاحيت څخه استفاده کړې او په يوه ځل دري طلاقه يې اغلظ يا نه ګرځېدونکی طلاق بللی دی.
د سنن النسايي د طلاق د کتاب ۱۵ حديث وايی: فاطمه بنت قيس وويل چي زه پيغمبرص ته ورغلم او هغه ته مي وويل چي زه له آل خالد ( د خالد له ټبره جهاني ) څخه يم او مېړه مي ماته احوال رالېږلی او زه يې طلاقه کړې يم. ما د هغه له کورنی څخه وغوښتل چي ماته خرڅ خوراک او سرپناه راکړي. د مېړه د کورنی غړو بې وويل چي دا په دريو طلاقو طلاقه سوې ده او نور په موږ کي حق نه لري. پيغمبرص ورته وويل چي دا ښځه اوس هم د مېړه په کور کی حق لري ځکه چي مېړه يې بېرته د مېرمني په حيث منلای سي.
همدغه سنن النسايی په ورپسي ۱۶ حديث کي د همدغي فاطمه بنت قيس له قوله وايي چي پيغمبر ص وويل چي په دريو طلاقو طلاقه سوې ښځه د خرڅ خوراک او سرپناه مستحقه نه ده. ( دا حديث له مخکني حديث سره څرګند مغايرت لري )
د همدغه کتاب ۱۷ حديث د همدغي فاطمه بنت قيس له قوله، په يوه بله سلسله، روايت کوي او وايی چي دری ځله طلاقه سوې ښځه د خرڅ خوراک او سرپناه مستحقه نه ده.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د همدغه کتاب ۱۸ حدیث بیرته د دوو مخکنیو احادیثو مخالف حکم کوي او وایی چي ابن طاووس د خپل پلار له قوله وایی چي ابوالصهبا د ابن عباس څخه پوښتنه وکړه چي د پیغمبرص په زمانه کي دری طلاقه پر یوه طلاق حساب نه وه؟ هغه ورته وویل هو.

د سنن ابوداوود د طلاق د کتاب ۲۲ حدیث کي راغلي دي چي د رُکانه پلار ابویزید خپله مېرمن په دریو طلاقو طلاقه کړې وه او له بلي ښځي سره یې واده کړی وو. دوهمه ښځه یې ځکه طلاقه کړه چي د هغې ابویزید خوښ نه وو او خپل سیال یې نه باله. ابویزید، د حضرت پیغمبرص په مشوره، دوهمه ښځه طلاقه کړه او کله چي حضرت پیغمبرص ابویزید ته وویل چي له خپلي لومړۍ ښځي سره بیرته نکاح وکړه. ابویزید ورته وویل چي ما هغه په دریو طلاقو طلاقه کړې ده. حضرت پیغمبرص ورته وویل زه پوهېږم خپله لومړۍ ښځه دي بیرته په نکاح کړه.

د همدغه سنن ابوداوود د طلاق د کتاب ۲۳ حدیث وایي چي یوه سړي ابن عباس ته وویل چي ښځه مي په دریو طلاقو طلاقه کړې ده. ابن عباس ورته وویل چي تا د الله د حکم سره سم عمل نه دی کړی او مېرمن دي له نکاح څخه وتلې ده او بیرته یې نه سي په نکاح کولای.

د همدغه کتاب ۲۶سنن ابوداوود حدیث بیرته، د سنن نسایی هغه حدیث تکراروي چي د پیغمبرص، ابوبکر او د عمرفاروق د خلافت په لومړیو شپږ ورځو کي دری طلاقه پر یوه طلاق شمېرل کېدل.

حضرت پیغمبر د طلاق د مسلې حساسیت او اهمیت ته ښه متوجه وو ځکه یې نو په دغه برخه کي په ډېر احتیاط عمل کاوه. د سنن ابوداوود د طلاق د کتاب ۱۹ حدیث د عایشي رض له قوله وایی چي له حضرت رسول ص څخه یې اورېدلي دي چي د قهر او فشار په وخت کي طلاق نسته. ابوداوود حدیث ۱۹

په داسي حال کي چي طلاق اکثر وختونه د سخت روحي فشار، خپګان او قهر په وخت کي منځته راځي او زیاتره وختونه سړی پر خپل عمل پښېمانه وي خو مُلایان کار تر کار تېر بولي او چاته اجازه نه ورکوي چي هغه طلاق بیرته راوګرځوي.

اوس به نو سړی کوم حدیث مني؛ ځکه چي دا ټول د اهل سنت والجماعة د احادیثو معتبر کتابونه دي چي صحاح سته یا شپږ صحیح احادیث دي. زیات و کم ۱۲۰۰ کاله کېږي چي د د احادیثو دا کتابونه لاس پرلاس کېږي او هر یو یې ښایی سل ځله چاپ سوی وي او سره له هغه چي په ډېرو مسایلو کي اختلاف موجود دی په هغو استناد کېږي.

د نکاح او طلاق په ارتباط ډېره مهمه مسله د تي رودلو Breast feeding یا رضاع ده چي که شواهد موجود وي نو د رضاعي خپلوانو ترمنځ نکاح حرامیږي. هغه نکاح چي د وینو د خپلوۍ په اثر تحریم سوي وي هغه د رضاعي خپلوۍ په اثر هم تحریم ده. خو په دې باریکه موضوع کي د معتبرو احادیثو ترمنځ او پخپله د معتبرو احادیثو د خپلو متونو ترمنځ ډېر عجیب اختلاف موجود دی چي باید د احادیثو لومړنیو ټولوونکو یې په لیکلو کي له احتیاط څخه کار اخیستی وای او یا وروسته لویو دیني علماوو، چي ځانونوته اهل فتوا وایي، هغه احادیث له منځه وړي وای؛ ځکه چي په احکامو کي ابهام ایجادوي.

د سورة بقره ۲۳۳ آیة کي راغلي دي چي میندي خپلو اولادونو ته دوه بشپړ کلونه خپلې شیدې یا تی ورکولای سي Breast feed. د دې معنا دا ده چي که څوک یوه بل ته د شیدو رودلو په اساس ناروا کېږي نو شیدې رودل باید په دغه دوو کلونو کي واقع سوی وي او ځیني احادیث په دغه برخه کي صراحت هم کوي. خو ځیني نور احادیث بل ډول حکم کوي.

اُم فضل وایي چي پیغمبرص وویل چي په دوه ځله تي رودلو نکاح نه ناروا کیږي. صحیح مسلم. کتاب النکاح حدیث ۱۸۶ ( عمومي نمبر ۳۴۱۷)

په همدغه کتاب کي یو بل حدیث د اُم المومنین عایشي له قوله وایي چي په قرآن شریف کي راغلي وه چي که یو ماشوم لس ځله د یوې ښځي شیدې وخوري نو نکاح ناروا کیږي. وروسته هغه آیة منسوخ سو او پر ځای باندي یې بل آیة راغی چي پنځه ځله تي رودل یې شرط بللي وه. په دغه وخت کي د الله پیغمبرص وفات سو او دا آیتونه د هغه د وفات څخه مخکي نازل سوي وه. هغه کتاب حدیث ۱۹۱

تر دې وروسته بل حدیث راغلی دی چي موضوع یې نوره هم مغلقه او په زړه پوري کړې ده: ابن ابومُلایکه وایي چي القاسم بن محمدبن ابوبکر د عایشي له قوله ورته ویلي دي چي د سهیل لور سهلة پیغمبرص ته راغله او ورته وې ویل چي د دوی آزاد کړی غلام سلیم له دوی سره په کور کی اوسیږي او د دې مېړه ابی حُذیفة نه غواړي چي دا هلک، چي اوس ځوان سوی دی، زما مخ ووینې. پیغمبر ورته وویل چي هغه ته تی ورکړه Breast feeding نو هغه به ستا رضاعي زوی سي. هغه کتاب حدیث ۱۹۴

تر دې لا، په همدغه ارتباط بل حدیث په زړه پوري دی او په هغه کي د ابوسلامه لور زینب د پیغمبر د بلي مېرمني اُم سلمه له قوله وایي چي کله پیغمبر سهلة بنت سهیل ته وویل چي سلیم ته تی ورکړه نو هغې ورته وویل چي هغه ږیره لري زه څرنګه تی ورکړم. حضرت پیغمبرص ورته وویل چي تی ورکړه خو مېړه دي ابوحذیفة نور ستا سره د سلیم په لیدلو تندی تریو نه کړي. سهلة وایي په الله مي دی قسم وي چي زما مېړه ابوحُذیفه تر دې وروسته زما سره د سلیم په لیدلو تندی تریو نه کړ. هغه کتاب حدیث ۱۹۶


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د امام مالک بن انس د احاديثو کتاب مالک موطا په خپل ځان کې له يوه بل سره مخالف احاديث راوړي دي. په کتاب الرضاع کې د عبدالله بن عباس له قوله راغلي دي چې که يو ماشوم، چې عمر يې تر دوو کالو کم وي، فقط يوځل د يوې ښځې تی وروي هغه ته خپل رضاعي خپلوان حرام دي. مالک موطّا، کتاب الرضاع حديث ۴
په بل حديث کې راغلي دي چې رضاعي خپلوي يوازې په ماشومتوب کې منځته راځي خو که ماشوم تر دوو کالو زيات وي نو هيڅ ډول رضاعي خپلوي منځته نه راځي. هغه کتاب حديث ۶
تر دې ځايه پورې د مالک بن آنس راوړي دوه حديثونه د قرآن شريف له احکامو سره برابر دي مګر کله چې اتم حديث ته ځي نو داسې څه وايي چې په هيڅ کتاب روا نه دي:
« يحيى ماته له مالک او هغه له نافع او هغه د ابی عبيد د لور صفيې له قوله وويل چې د عمربن خطاب لور حفصة ( د حضرت پيغمبرص مېرمن. جهاني) خپلې خور فاطمې ته عاصم ابن عبدالله ابن سعد واستاوه او ورته يې ويل چې هغه ته لس ځله تی ورکړي چې په دې وسيله ماته محرم سي او زما سره د ليدلو اجازه پيدا کړي» هغه کتاب حديث ۸
همدغه مالک بن انس وروسته په يوه بل حديث کې ليکي : « مالک د يحيى بن سعيد او هغه د سعيد بن المُسَّيب له قوله وايي چې ماشوم يوازې هغه وخت رضاعي محرم کېدلای سي چې په زانګو کې تی وروي » هغه کتاب حديث ۱۱
ورپسې په يوه بل حديث کې د همدغه پورتني حديث مخالف او نقيض قول راوړي او وايي چې د حضرت رسول اکرم ص مېرمنې عايشې خپلې خور اُمّ کلثوم بنت ابوبکر صديق او د خپل ورور لونو ته امر وکړ چې هر هغه چاته چې غواړي له دې( عايشې) سره ووينې تی يا خپلې شيدې ورکړي څو د دې لپاره محرم سي. د حضرت پيغمبرص نورو مېرمنو وويل چې په الله مو دې قسم وي چې موږ دا کار ځکه نه کوو چې حضرت پيغمبر ص يوازې د يوه ځل لپاره او هغه هم د سهلة بنت سُهيل په خاطر دغه اجازه ورکړې وه . . . » هغه کتاب حديث ۱۳
همدغه مالک بن انس په ورپسې حديث کې خپل پورتنی قول ردوي او ليکي:« يوه سړي د عبدالله بن عمر څخه پوښتنه وکړه چې لوی سړی د شيدو په رودلو محرم کيږی کنه هغه په جواب کې ورته وويل چې يو سړی عمر بن خطاب ته راغی او ورته وې ويل چې د خپلې کنيزې يا مينځې سره يې جنسي اړيکې درلودلې او مېرمنی يې هغې ته خپلې شيدې ورکړې. کله چې ده بله ورځ وغوښتل چې له کنيزې سره پرېوزي نو مېرمنې يې ورته وويل چې هغه دې لور ده ځکه چې ما تی ورکړی دی. سړي عمر بن خطاب ته کيسه وکړه. عمر بن خطاب ورته وويل چې خپله مېرمن دې ووهه او له خپلې کنيزې سره پرېوزه؛ ځکه چې رضاعي محرميت يا خپلوي يوازې په ماشومتوب کې ټينګيږي» هغه کتاب حديث ۱۴
محدث ابي داوود په خپل کتاب سُنن ابي داوود کې د نکاح په کتاب کې راوړي دي چې عبدالله بن مسلمة القعني د مالک او هغه د عبدالله بن ابی بکر بن محمد او هغه د عبدالرحمن د لور عَمرة له قوله وايي چې عايشې رض ورته وويل چې په قرآن شريف کې په لس ځله تې رودلو رضاعي محرميت ټينګېدی وروسته هغه اية منسوخ سو او پنځه ځله شيدو ورکولو محرميت ټينګاوه. کله چې پيغمبر وفات سو لا هم دغه کلمات په قرآن شريف کې موجود وه او تلاوة کېده » کتاب النکاح حديث ۱۷
په ورپسې حديث کې ليکي چې مُسدَّد بن مُسرهد د اسماعيل، هغه د ايوب، هغه د ابن ابی مُليکة، هغه د عبدالله بن الزبير او هغه د عايشې رض له قوله وايي چې پيغمبرص ويلی دی چې په يو يا دوه ځله شيدو رودلو رضاعي خپلوي يا محرميت نه ټينګيږي. حديث ۱۸
سنن ابن ماجه د نکاح د کتاب په ۹۶ حديث کې د اُم فضل له قوله وايي چې حضرت رسول ص وويل چې په يوه يا دوو ځلو تې رودلو نکاح نه حراميږي.
سنن ابن ماجه د همدغه کتاب په ۹۸ حديث کې د عايشې له قوله راوړي دي چې په قرآن کې آية وو چې تر لس ځله په کم تې رودلو يا تر پنځه ځله کم تې رودلو نکاح نه حراميږي او دا آية وروسته منسوخ سو.
همدغه ابن ماجه د نکاح په کتاب کې په ورپسې حديث کې وايی چې پيغمبر سهلة بنت سهيل ته وويل چې خپل آزاد کړي غلام ته تی ورکړه چې ستا سره محرم سي. هغې ورته وويل چې زه څرنګه هغه ته تی ورکړم ځکه چې هغه ځوان دی. پيغمبرص ورته وويل چې زه پوهېږم ته هغه ته تی ورکړه. کتاب النکاح حديث ۹۹.
له دې حديث څخه وروسته چې بل حديث راغلی دی هغه تر نورو په زړه پورې دی. ابوسلمة د يحيى بن خلف او هغه د عبدالاعلی او هغه د محمدبن اسحق او هغه د عبدالله بن ابوبکر او هغه د عمرة او هغه د عايشې له قوله وايي چې د سنګسار او يوه بالغ انسان ته د لس ځله تې ورکولو آية نازل سوی وو. او هغه کاغذ زما تر بالښت لاندې وو. کله چې پيغمبر وفات سو نو موږ د هغه په تجهيز او تکفين او غم اخته وو او په دغه حال کی هغه کاغذ پسه وخوړ. هغه کتاب حديث ۱۰۰.
ابن ماجه په حاشيه کی ليکی چې دغه آيتونه په قرأت کې منسوخ سول مګر حکم يې نافذ وو.
په احاديثو کې دغه ډول ناشدي خبرې ډيرې راغلی دي. لومړی خو سړی وګوري چې دا حديث شپږ ځله سينه پر سينه سوی او بيا تر اووم تن پورې چې اصلي راوي دی يعنی عايشې پورې رسېدلی دی. ابن ماجه نه پر ليکلي متن حواله نه ورکوي او نه ليکلی متن موجود دی؛ نو معلومه خبره ده چې دا بايد د لومړي سړي يعني ابوسلمة څخه اورېدلې وي. د ابن ماجه کتاب د حضرت رسول ص له وفات ځخه لږترلږه۲۳۰ کاله وروسته ترتيب سوی


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

دی. ځکه چې ابن ماجه په ۲۷۳ هـ ق کال کې وفات سوی دی. د حضرت رسول ص د وفات کال ۱۱ هـ ق دی. په دومره زیات وخت کې، چې ټول احادیث په همدغه شکل ترتیب سوي دي څرنګه امکان لري چې متنونه دی سینه پر سینه صحیح او د اعتبار وړ پاته سي. محدثینو ته لازمه وه چي یا یي له سره احادیث جمع کړي نه وای او یا یي سم تصفیه کړي وای او په یوه موضوع کی یې دوه او دري متضاد حکمونه راوړي نه وای. ځکه چې د دې کار تر ګټي تاوان زیات دی او د خلکو د ګمراهی سبب کیږي او یوازې شیوخ الحدیث ته د فضل فروشی او سوداګری بازار مهیا کوي.

ګرانو لوستونکو ولیدل چې د سنن النسایی د طلاق د کتاب ۱۵ حدیث فاطمه بنت قیس ته وایي چې که څه هم چې ته مېړه په دریو طلاقو طلاقه کړي یې مګر ته د هغه په کور کی د اوسېدلو حق لري او تاته باید نفقه درکړي او مېړه دي کولای سی چې تا بیرته خپله مېرمن وبولي. په ورپسې حدیث کې همدغی فاطمي بنت قیس ته وایي چې ته په دریو طلاقه طلاقه سوې یې او د مېړه په کورکي د اوسېدلو او نفقي حق نه لرې. دواړه احادیث د النسایی د کتاب او دواړه د یوې ښخي په باره کې دي او د یوه بل مطلق مخالف احکام لري. لویو محدثینو په لوی لاس، په دونه مهمه حیاتي موضوع کې، ابهام او مغشوشیت ایجاد کړی او موږ یې شیخ الحدیث ته محتاج کړی یو. نو سړی ویلای سي چې په لوی سر کې، په دغه توګه، د احادیثو د کتابونو د لیکل کېدلو تر ګټي تاوان ډیر دی.

چې بیرته د عایشې له قوله د قرآن شریف د ایة د ضایع کېدلو او پسه خوړلو موضوع ته وګرځو نو لوستونکو ته دی معلومه وي چې د قران شریف آیتونه د احادیثو په ډول نه وه چې څه دپاسه دوه سوه کاله سینه پر سینه نقلېدل او د یوې موضوع په باره کې د شپږ اووه ډوله احکامو د منځته راتللو سبب سول. د قرآن شریف آیات له نازلېدلو سره سم د حضرت رسول ص کاتبانو عبدالله بن مسعود، زید بن ثابت، ابوموسی اشعری، اُبی بن کعب او نورو کسانو په هغه ګړي لیکل او په هماغه ساعت صحابه وو ته ابلاغ کېدل او په سل ګونو کسانو هغه حافظې ته سپاره چي هغوی ته یې قاریان او حافظان ویل. آیة که ورک سوی وای او یا پسه خوړلی وای له منځه نه تلی او د حافظانو په حافظو کی پاته وو. دغه علت دی چې کله عثمان بن عفان رض قرآن شریف جمع کړ نو داسي څوک نه وو چې پر هغه باندي د کوم آیة د کمولو او زیاتولو تور ولګولای سي.

چې خبري را لنډي کړم نو باید ووایم چې تر څو اسلام موجود وي د احادیثو د امامانو او احادیثو د را ټولونکو زیار او کار به هېر نه کړی خو هغوی ته په کار وه چي هرډول ناسره کړي او حتی غیرمعقول نقل قولونه یې په خپلو کتابونو کي را غونډ کړي نه وای او احادیث یې نور هم تصفیه کړي وای. خو چې هغوی دا کار ونه کړ نو شیوخ الحدیث ته په کار وه چې دا کار یې کړی وای، چې نه یې دی کړی. شیوخ الحدیث هم دا ټول سره او ناسره احادیث وار په وار چاپ کړل؛ په خپلو فضل فروشیو یې له خلکو څخه نوره هم لاره ورکه کړه او دغه علت دی چې موږ په احادیثو کې دغه ډول ضد او نقیض اظهارات وینو چې سړی پر هر څه باندي بې باوره کوي.

پاته لري

[په افغان جرمن آنلاین کې پورتال د لیکوال آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ